د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه

۱

د دارالانشاء عمومي رياست
د تحريراتو آمريت
د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۱۱
نېټه: ۱۴۴۳/۸/۱۶ هق

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۳/۷/۲۶ هق د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله او د سترې محکمې د رئيس محترم شيخ صاحب او ورسره مل پلاوي په ګډون مجلس دائر شوی وو چې په هغه کې دوهمه موضوع د نظامي محکمو د جوړښت په باره کې وه چې په اړه يې داسي فيصله شوې ده:

((ټولې نظامي محکمې دي اته (۸) محکمې سي په هر قول اردو کې دي يوه يوه نظامي محکمه جوړه سي.

د هرې نظامي محکمې د مربوط ولايتونو تفصيل په لاندې ډول دی:

۱ ـ کندهار ، زابل ، ارزګان ، هلمند.

۲ ـ غزني ، باميان ، ميدان وردګ ، دايکندي .

۳ ـ پکتيا ، پکتيکا ، خوست ، لوګر.

٤ ـ کابل ، پروان ، کاپيسا ، پنجشير .

٥ ـ ننګرهار ، کنړ ، لغمان ، نورستان.

٦ ـ بلخ ، سرپل ، جوزجان ، فارياب.

۷ ـ قندز ، سمنګان ، بغلان ، تخار ، بدخشان.

۸ ـ هرات ، فراه ، نيمروز، بادغيس

د غور ولايت د نظامي موضوعاتو د حل او فصل لپاره دې د غور ولايت په ښهري محکمه کې نظامي ديوان جوړ سي.

د غزني ولايت نظامي مرافعه دکندهار ولايت نظامي مرافعه ده.

د پکتيا ولايت نظامي مرافعه دکابل ولايت نظامي مرافعه ده.

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

د کندز ولایت نظامي مرافعه دبلخ ولایت نظامي مرافعه ده.

د نظامي محکمې د مربوط موضوعاتو تفصیل په لاندي ډول دی:

د حکومت ددغه درو ارګانو (وزارت دفاع، وزارت داخله، استخباراتو)د منسوبینو څخه که کوم څوک په یوه موضوع کي مدعي علیه واقع سو موضوع يې د نظامي محکمې مربوط ده.

او د حکومت ددغه درو ارګانو د منسوبینو څخه ماسوا که د حکومت کوم څوک په یوه موضوع کي مدعي علیه واقع سو موضوع يې د امنیت عامه دیوان مربوط ده.))

او همدارنګه په نوموړي مجلس کي دریمه موضوع د احتساب د محکمو په باره کي وه چي په اړه يې داسي فیصله شوې ده:

((داحتساب د محکمې موضوعات د نظامي محکمې مربوط دي د هري نظامي محکمې په تشکیل کي به دوه قاضیان، دوه مفتیان دوه محررین او یو رئیس وي.))

د پورته ذکر شوي مجلس د دوهمې او دریمې موضوع په اړه فیصلې د دې متحدالمآل په استولو سره و ټولو تمیزونو، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته خبر ورکول کیږي تر څو د ضرورت په وخت کي د هغه مطابق اجراآت ترسره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء رئیس

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
ټیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af